خدای شته په خپلو کښې ځه پس پس کوي
ځانونه غلي کړي چې ما او وويني
څه رازداري خو شته د مور او د لور

○

زه چې د سیند څپو ته ګورمه نو
راشي په سترګو مې لاسونه کېږدي
وائي څه او وایه چې څوک یمه زه

○

بنده روغ رمټ یم چې بصر یمه زه
کور ته چې راشم نو بې حاله شمه
چا جوړ په ما باندې تاوید کړے دے



دا حقیقت د چا ده پټ خو نه دے
د رنګ سپړلو پسې ګرځېږو ځکه
موږ په صحرا کښې اوبه ځوړ کړے دے

○

موږ به سپوږمۍ ته وو ځوا ختلي
افسوس خو دا دے چې زموږ د کور
درشل که او دړېږي، دېوال پرېوځي

○

ښکري په اېچو کښې په خیال شړنګوه
چې په سینه کښې مې غورځنګ راشي نو
په دریابونو کښې کشتۍ لاهو شي

ketabton.com - The Digital Library



زړهٔ مې تښتي اوچوي چې مېچن ګرځوي
شپږ ېنې نفس به شي دمه يکښې خوره
رب به زمونږ ه دا نېستي غوټۍ کړي

جذبه جذبه دي دَ ساحل خوبونه
غوړځنګ غوړځنګ بېخي دَ شپې ځواني ده
سپوږمۍ به دې کښې هم ستړونه کوي

دَ شپې طوفان چې شي راخور په زمکه
زړهٔ دَ بې خوند ه اورکو له غمه
پورته به ستورو کښې پناه اخلم



کله اودرېږي دَ نګهت قافلې
کله دَ ګل ورځمه ورځمه خوربږم
خوبونه وينم تعبيرونه وېښم

تهوله دَ زړ او زورخېره ده اوس
ستاسو مخونه په چا نهٔ شوکوم
څوک دَ جرګو هېڅ پروا نهٔ کوي

دَ نوي نسل څومره لوے زړونه دي
دَ پلار نيکهٔ هېڅ ونه هم ورکوي
په اديرو باندې پلازې اودروي

Scanned by CamScanner

خپلو همځولو ته شرینه واٸي
سر ته يې خبر شه خو باور مې نشي
رغېږي نه د پشکال لېونۍ

○

پوزه دې پرې نه کړې د قام لېونۍ
درنه په لاره تېرېدلے نه شم
ته د واده نه پس هم سمه نه شوې

○

پېغلو وېل مونږ ته ګناه نشته دے
چې د خپل کور ورونه بند شي په چا
نو ځاځا چا سره لار اخلي



يې د نازونو لوړای شیریني
ځان چیاله ورنه کړي په لاس ...
ګنې دنګونه به دې تړول والوځي

○

واڼۍ ګیاې دې په سر ستړګو منم
مانه باد وېږې غلطي شوې دي
خو لاس چې مات شي خپل خپل غاړې ته ...

○

میانۍ دې په داسې پښتنو بوري شه
پاسې پردې تورسرې او تختوې
بیا یې د خوېندو څوک تپوس نه کوي

ketabton.com - The Digital Library



یوه سپېڅلې تجربه مې اوشوه
اوس په کم اصلو اعتبار نهٔ کوم
خاوره د لوې ډېرانه اخلمه زهٔ

ستا د اوربدو زلفو بلا واخلمه
د ژوند طوفان کښې په چا ملا مهٔ تړه
مار هم پردې لاس باندې نهٔ وژنې څوک

د محبت له عظمتونو نه زار
چې د زامنو یې ودونه جوړ شي
میاندې په سپین سر ګډاګانې کوي



وائي له لور او خور تپوس کوي څوک
کوئ چې هر څهٔ کوئ، ستاسو خوښه
زهٔ د پردي ډېران خځله یمه

ماتېږي کاڼي تل په کاڼي باندې
زهٔ جاروګې چاته وهلې نهٔ شم
ورکړې ما نهٔ دي ډېران له لتې

زور مې په ځائے دے خو غرور څنګ نهٔ کوم
ګټې په ما باندې د ښار مېرمنو
نن د ګډانو غوښې هم اوخوړې

Scanned by CamScanner

خدایه شته هیڅ پاتې ملامته نه یم
لوږو او تندو که وژلم نو هم
چرته مې لاس چاته نیولی نه دے

اوس به د ځان څه صفایي کومه
ځکه بلاخره سره شومه زه
شرینې تا سره مې ښه کړې وو

خدایږو په خوند پسې د ژوند پانده شو
اے د ځوانۍ د تقاضو سپرلیه
زمونږه کلي ته به راشې که نه



شرینې ډېره ناآوزګاره یې خو
ته چې له ځان سره یوازې شې نو
دا ځواني مرګ درته یادېږي که نه

د زورآور او به په لوړه ختې
آ چې بد خویه یادېږه کلي کښې
د خپو تلې مې هم هغه ښکلوي

رب دې ژوندی لره خوږ دې کړمه
زه به چېرې کښې خامخا راتلمه
راته چې ملا سته په اوبو کښې وې ته

ketabton.com - The Digital Library

Scanned by CamScanner

د ساینس دا معجزه هم اووینئ
میانه دو ته داسې ستنې اولګوي
چې په بچو ورله زېږے راولي

چې ئې په ټي. وي اشتهار اوکړۀ
وسېل ئې دا په نېڅو ډېر ظلم دے
دوۀ نه سېوا بچي راوړے نۀ شم

د خدائے کارونو کښې څوک څۀ اووائي
زما نظر چې په لټون وُ د چا
اوس مې په سترګو پاندې نښه نۀ لګي



هسې بې ځایه خوشحالېږې په څۀ
ما چې تریاق د محبت ګڼلے دے
د مار په زهرو پاندې نۀ مرمه زۀ

کوړ رانه ورک دے او د زړي شپه ده
ستا د نظر تاوونه هم ساړۀ دي
دا بې حسي مې چرته کاڼے نۀ کړي

سترګې په دې کښې څۀ مړې شي د چا
چې سپېر اوړۀ ځان له پیدا کړمه زۀ
نو د کارغانو سېل راټول شي په ما

